د انګلستان او ویلز د حقوقدانانو

د بشر د حقوقو کمیته

(BHRC)

# اساسی حقوق

افغانســــتان

می ۲۰۰۸ کال

د انگلستان او ویلز د حقوقدانانو
د بشر د حقوقو د کمیتې نشرات
لندن - (BHRC)

# د مطالبو فهرست


عمومی اصول ........................................................................ **5**

د افغانستان اساسی قانون ........................................................ **۶**

آزادي / قانونی مراحل.............................................................. ۶

شکنجه او زورونه.................................................................... ۷

د بین الدول د حقوقو رول.......................................................... ۷

دبریتانیي تجربه...................................................................: **۸**

آزادی / قانونی مراحل.............................................................. ۸

شکنجه او زورونه...................................................................: ۹

د امریکی د متحده ایالتونو تجربه...........................................: **۱۱**

آزادی / قانونی مراحل.............................................................. ۱۱

# مقایسوی اساسی حقوق

**عمومی اصول**

۱. اساسی قانون څه شی دئ؟

۲. اساسی حقوق څه دي؟

۳. د اساسی حقوق منابع کوم دي؟

۴. بین الدول حقوق د اساسی حقوقو سره څه اړیکه لري؟

۵. څنګه کولای شو د بیلابیلو قضائي مراجعو د پریکړو څخه د اساسی قانون په تفسیر کې کار واخلو. ؟

۶. د بشر د حقوقو توجیهات کوم دي؟

# د افغانستان اساسی قانون

آزادي / قانونی مراحل

د آزادی او قانونی مراحلو په هکله د افغانستان د اساسی قانون احکام دادي:

"

**څلورويشتمه ماده**

آزادي د انسان طبيعی حق دی. دا حق د نورو د آزادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لياري تنظيميږي حدود نلري.
د انسان آزادي او کرامت له تيري خوندي دي. دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی.

**پنځه ويشتمه ماده**

د ذمی برائت اصلی حالت دی.
ترهغې چې د باصلاحيته محکمې په قطعی حکم متهم محکوم عليه ثابت نه شي، بې ګناه ګڼل کيږي.

**اوه ويشتمه ماده**

هيڅ يو عمل جرم نه ګڼل کيږي خو دهغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب دمخه نافذ شوی وي. هيڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقيبيدای، نيول کيدای او يا توقيفيدای نه شي.
هيچاته سزا نشي ورکول کيدای مګر، د باصلاحيته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي.

**يوديرشمه ماده**

هرڅوک کولای شي چې له نيولکيدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او يا د حق د ثابتولو لپاره مدافع وکيل وټاکي.
متهم حق لري چې له نيولو سره سم له منسوب اتهامه ځان خبر کړي او دهغې مودې دننه چې قانون يی ټاکي، محکمه کې حاضر شي.
دولت په جنايی پيښو کې د بيوزلي متهم لپاره مدافع وکيل ټاکی.

د متهم اړو د هغه د وکيل ترمنځ مکالمات، مراسلات او مخابرات له هرډول تعرض څخه خوندي دي.
د مدافع وکيلانو وظايف او واکونه د قانون له لياري تنظيمېږي. "

## شکنجه او زورونه

د شکنجې په لړ احکام دادي:

<u>نه ويشتمه ماده</u>

د انسان تعذيب منع دي.
هيڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقايقو د ترلسه کولو لپاره که څه هم تر تعقيب، نيونې يا توقيف لاندې وي اويا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذيب لپاره اقدام وکړي يا يې د تعذيب امر ورکړي.
د انسانی کرامت مخالفې جزا ټاکل منع دي.

<u>ديرشمه ماده</u>

د متهم يا بل شخص څخه په زور ترلاسه شوي څرګندوې، اقرار يا شهادت اعتبار نه لري.
په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وايي چې په بشپړه خوښه او دعقلی روغتيا په حالت کې يې د باصلاحيته محکمې په وړاندې کړی وي. "

## د بين الدول دحقوقو رول

د بين الدول حقوقو د رول په هکله د افغانستان په اساسی قانون کې لاندينې احکام شته:

"

<u>اوومه ماده</u>

دولت د ملګرو ملتو د منشور، د بين الدول معاهدو، د نړيوالو ميثاقونو چې افغانستان د هغو سره تړاو لري او د بشري حقوق د نړيوالې اعلاميې رعايت کوي. "

## دبریتانیي تجربه:

## آزادی / قانونی مراحل

نیویارک کی د سپتمبر د یوولسمی نیتی د بریدونو نه وروسته د برتانیی دولت د " تروریزم، دجرایمو ضد او امنیت د تامین قانون (ATCSA۲۰۰۱) تصویب کړ. دا قانون د کورنیو چارو وزیر( ددی قانون د اجرا کولو یو غړی) ته د هغوبهرنیانو د نیولو او بندی کولو حق ورکاوه چې دنړیوال ترهګری "معقول شک "پری شوی وی .د A and Others په قضیه کی کورنی چارو وزارت ته د بهرنیو چارو وزیر په مقابل کی ، باید د برتانیی د مشرانو مجلس ددی مقرراتو قانونیت څیړلي وای. پدی ارتباط:

١) له هر څه نه مخکی، دا مقررات د اروپایی کنوانسیون د بشری حقونو(The ECHR) د(١)۵ مادی ناقض دی چې وایی "هر څوک د آزادۍ او شخصی امنیت حق لری."او داچې " هیڅوک به له خپلی آزادۍ نه بي برخي نه شی. " دا قضیه په مشخصو برخو کی صدق کوی چی هیڅ یو
یی عملی نه شوه.

٢) د اروپایی کنوانسیون دبشری حقونو پنځلسمه ماده هیوادونو ته حق ورکوی چی ددی کنوانسیون ځینی مقررات( د پنځمی مادی په شمول) تر دغو شرایطو لاندی فسخ کړی، " د جګړی یا عمومی اضطراری حالاتو په وخت کی چی ملی ژوند ته ګواښ وي. "
٣) د برتانیی دولت استدلال کوی چی ( الف) د ترهګری دګواښ له امله چی ددی هیواد وګړی ورسره مخامخ دی، ددی حق تر لاسه کړی چی ( د١۵ مادی پر اساس) ځان د پنځمی مادی په مقابل کی ملزم ونه ګڼی.او په همدی دلیل(ب) د توقیف هغه واک چی ورته ورکر شوی د ATCSA۲۰۰۱قانون پر اساس مشروعیت لری.

۴) د برتانیی د مشرانو مجلس دا استدلال رد کړاو امر یی وکړ چی د توقیف،حق،د اروپایی کنوانسیون دATCSA۲۰۰۱ قانون سره مطابقت نلری.

أ. محکمي پریکړه وکړه چی " د اتهام یامحاکمی نه پرته د یوي نامعلومی مودی لپاره د یو شخص توقیفول ، په هر هغه هیواد کی چی قانون پکښی نافذ دی ،د منلو وړ نده. "( لرد نیکلاس ته دی مراجعه وشی. پارګراف ۷۴)

ب. دATCSA قانون پدی هکله دبرتانیی هغواتباعو له اتهامه پرته د توقیف په هکله چی د ترهګری فعالیتونو شک پری کیږی، څه ندی ویلی ،په همدی دلیل د مشرانومجلس پریکړه وکړه چی دATCSA په قانون کی د بهرنیانو د توقیف صلاحیت معقول نه او له تبعیض نه ډک دی.

ج. قاضی لرد هافمن ددی نه مخکی لاړ او پریکره یی وکړه چی " دملت امنیت ته هیڅ کوم تهدید چي د اروپایی کنوانسیون په ۱۵ ماده کي راغلي، وجود نلري " ملت ته تهدید ، په هغه صورت کی چی د متعارفو قوانینو او سیاسی ارزښتونو پر اساس ژوند کوی، د تروریزم څخه نه ،بلکی د تروریزم ضد په څیر قوانینو څخه رامنځته کیږی. "(۹۷ پاراګراف دی وکتل شی )

ددی پریکړی په ځواب کی ، پارلمان د "۲۰۰۵ د ترهګری ضد قانون "تصویب کړ دا قانون د " نظم د کنترول واک " وربخښی چی د هغی پر اساس هر هغه چا چی په ترهګریزو فعالیتونو کښي د لاس لرلو شک وربادی کیږی محدودیتونه وضع کیږی.که چیری د نظر وړ شخص باندی د حکم د عملی کیدو د دلایلو ښکاره کول او یا د هغو اطلاعاتو ورکول چی حکم د هغی پر اساس اجرا شوی د عمومی ګټو پر خلاف وی، په هغه صورت کی د نظر وړ شخص ددی حق نلری چی د خپل توقیف په اړه په دلایلو او اطلاعاتو پوه شی.

د کورنیو چارو د وزارت او ج ج او نورو په مقابل کی بهرنیو چارو د وزیر قضیه (۲۰۰۷ ) ۴۵UKHL ، د مشرانو مجلس دا موضوع وڅیړله چی د نظم د کنترول ځینی پریکړي( چی مثلا له شخص څخه غواړی د خپلی ورځی ۱۸ ساعته پخپل کور کی تیر کړی )د اروپایی کنوانسیون د بشری حقونود ۵ مادی پر اساس " د آزادی نه بي برخي کول " ګڼل کیږی یا نه.
د مشرانو مجلس په ۳-۲ اکثریت باندی پریکړه وکړه چی دا پریکړي د نوعیت ،مودي او د تطبیق اغیزي او طریقي پر بنسټ ، د اروپایی کنوانسیو ن خلاف دی.

## شکنجه او زورونه:

د کورنیو چارو د وزارت د الف او نورو په مقابل کی بهرنیو چارو د وزیر قضیه (۲۰۰۷ ) ۷۱UKHL ، د مشرانو مجلس دا موضوع وڅیړله چی آیا داسی پیښي وو چی په هغی کی تر لاسه شوی شواهد ،د قضایی مراحلو دډولونو په یو شکل کی، د شکنجی له لاری وړاندی شوی وی یا نه. د قضایی مراحلو په هکله دا پوښتنه طرحه شوه چی باید د هغواشخاصو د

توقیف سره رابطه ولری چی د حکومت لخوا د نړیوالی ترهگری د شکمن په توگه پیژندل شوی او دا افراد حکومت د ځپل شکمنتوب په وړاندي چلنج کړی وی.
مشخصه مساله دا وه چی آیا د یو بهرنی هیواد لخوا د شکنجي له لاری تر لاسه شوی شواهد ، بی لدی نه چی د برتانیی هیواد پکی ښکیل وی ،کولای شی عدلی بهیر ته وړاندی شی او که نه.د مشرانو مجلس پریکړه وکړه چی د قضایی بهیر په هره مرحله کی د دغو شواهدی په وړاندی تل یو مطلق ممانعت وجود لری. د بیانیو مهمی برخی دادی.

" انگلیسی قوانین په تیرو پنځوسوو کلونو کی د شکنجي حاصل ته د نفرت او بیزارتیا په سترگه کتلی. او دا بیزارتیا د نړی د ۱۴۰ هیوادونولخوا چی د نه زورونی قرارداد یی لاسلیک کړی، منل شوي "
( پر لارد بنگهام،۵۱ پاراگراف )

" د عمومی قوانینواصل په یواځی توگه .... د شکنجی له لاری د شواهدو دتر لاسه کولو د مخنیوی.....امر ورکوی ا و هغه بی اعتباره ،غیر منصفانه ،او انسانی حیثیت اومعیارونو ته سپکاوي بولی او داسی شواهد هغو اصولو مخالف گڼی چی د عدالت د تر لاسه کولو لپاره باید دیوي محکمي لخوا رعایت شي. "

" د شکنجی نه کار اخستل سپکاوي دي.شکنجه هغه حکومت او قضایی سیستم چی هغه پکاروی او منی یي؛ فاسد او خواروی.په هغه وخت کی چی د شکنجی پر بنسټ قضایی سیستم په ټوله اروپا کی د منلو وړ وو د عمومی قوانینو لخوا د هغی ردول د بهرنیو روښان فکرانو او لیکوالو لکه ولتر او بکاریا په شان دملی غرور او افتخار سبب شو."(پرلرد هافمن ۸۲ پاراگراف )

" قانون ، هر څنگه چی وی د شکنجي څخه د کاراخستلو ملاتړ نه کوی.شکنجه د آزادی او دموکراسی په دفاع هیڅ ځای نلری. چي د هغي شتون د چارواکو لخوا د دغه شان طریقو داستفادي ردول دی. هرکله چی په یو قضایی سیستم کی شکنجه رواج پیدا کړی د یو ساری ناروغی په شان پراختیا مومی او هغه خلک چی د دی طریقي نه کار اخلی نور هم بیرحمه کوی. "
(پر لرد هوپ، پارگراف۱۱۲-۱۱۳ )

"د شکنجی څخه د نه ملاتړ دنده او لدی لاری په قضایی بهیرکی د شواهدو ترلاسه کول باید د قدر وړ وگڼل شی. په قضایی بهیر کی دغو شواهدو د وړاندی کولو اجازه ، وجدان ته ټکان

ورکوي او د قضایي سیستم د خوارۍ او ناوړه ګټې اخستلو سبب ګرځي او حکومت په یو غیر اخلاقي ککړتیا کې ښکیل کوي. (ګرلرد کارس ول.۱۵۰ پاراګراف).

## د امریکې د متحده ایالتونو تجربه:

## آزادي / قانوني مراحل

د رامزفلد په مقابل کې د حمدي په قضیه کې[1] د امریکې د متحده ایالتونو ستره محکمه باید هغو امریکایي اتباعو ته چې ددې هیواد د چارواکو لخوا د "دښمن د جنګیالیو "په حیث نیول شوي وو لږتر لږه انصاف قایل شوی وای. قاضي اوکرنر، پخپله لیکنه کې ګن شمیر خلکو ته داسي وویل:
"...قانوني مرحلې دې ته اړتیا لري چې هغه تبعه ،ته چې په امریکا کې د دښمن د جنګیالي په نامه نیول شوی، وخت ورکړ شي چې د یو بې پرې سیستم په مقابل کې د خپل نیول کیدو او بندي کیدو پر دلایلو باندي اعتراض وکړي."(۲ صفحه دویم ستون)...د دوامداره جګړې په وخت ،د اساسي قانون د اصولو دتوازن مناسبه ساتنه د ملت لپاره فوق العاده ارزښت لري خو په همهغه اندازه ډیره مهمه ده چې زموږ محاسبې د هغو ارزښتونو په ساتنه کې چې دې هیواد ته ډیر ګران دی او یا د امریکې د تابیعت امتیازاتو ته کمی ونکړي.

د لویو چلنجونو او سختو شیبو په مهال کي دي چي زمونږ د ملت تعهد د قانوني مراحلو په وړاندې آزمایل کیږي او همدغه مهال دي چې مونږ باید خپل هغوداخلي اصولو دپاره خپل تعهدات وساتو چې په بهر کې مو د هغې لپاره جګړه کړې (ص۱۲.شپږم ستون)...یو نیول شوی تبعه چې غواړي پدي اعتراض وکړي چي ولي ددښمن د جنګیالي په توګه معرفي شوي. باید اړونده سندونه ورته وړاندي شي او هغې ته د حکومت او یو بې پرې تصمیم نیوونکې مرجع سره د مقابلې لپاره لازمه زمینه برابره شي .... دا مهم حق چې د اساسي قانون نه رامنځته شوی هیڅکله هم له منځه نشي تللی. "

قاضي اوکرنر ومنله چې په عادي بهیر کې ځیني بدلونونه د منلو وړ دي پدې شرط چې د هغي د اشاري وړ، هغوحقونو احترام وشي چې په اساسي قانون کښي منل شوی دی. دغه بدلونونه د هغه په نظر دادي:

[1] ۱ ۵۴۲.U.S۵۰۷(۲۰۰۴)

"په عین حال کی د شرایطو غوښتنه شاید داوی چی د اصلی عناصرو نه پرته، د دښمن د جنګیالیو قضایی بهیر کیدای شی داسی مطرح شی چی د هغی غیر عادی پوتانسیل ، د قانون اجراکوونکي باندي ډیري اغیزي په خاطر، پداسی حالت کی چی یو پوځی کشمکش روان دی، سپک شی.(۵۳۴)
د مثال په توګه کیدای شی په یوه قضایی بهیر کی ،اوریدل شوی آوازی او شایعات د حکومت لپاره ډیر معتبر سند په توګه د منلو وړ وی.

همدارنګه اساسی قانون به د دولتي شواهدو په ګټه ،د یوی فرضیی د تصور څخه زیانمن نشی تر کومه ځایه چی هغه فرضیه د چلنج کولو وړ وی او هغی ته د مقابلی لپاره کافی وخت ورکړشی،... په مجموع کی پداسی حال کی چی پوره خوندی توب د توقیف د چلنج کولو لپاره اغیزمنه نه وي او یا د دښمن د یو جنګیالی پر وضعیت باندی بي تاثیره وي د پوځی عملیاتو په نسبت ګواښونه د یو ابتدایی مستقلي کره کتني د سیستم پر بنسټ او د قضیی اوریدل د یو بی پری تصمیم نیوونکی په وسیله دومره ګرانه نده چی د دولت د لازم چلنج لپاره ،د تابعیت اصلی حقوق له منځه یوسی.

د رامزفلد په مقابل کښي د حمدان په بله قضیه کی هم ستره محکمه یو شان موضعګیری وکړه.ښاغلی حمدان د یمن اوسیدونکی په کال ۲۰۰۱ کی افغانستان باندي د یرغل په پر مهال ونیول شو او امریکایی پوځیانو ته وسپارل شو.د ۲۰۰۲ کال د جون په میاشت کی هغه دګوانتاناموزندان ته ولیږدول شو.ښاغلی حمدان د "پوځی کمیسیونونو " مشروعیت چی د بوش اداره د ګوانتانامو د قضایی بهیر لپاره رامنځته کړی وه، تر پوښتني لاندی راوړ. دقاضی استیون د اکثریت نظر پوښتنه وویل چی دا کمیسیونونه" د نظر له اختلافه پرته د نړیوالو انعطاف منونکو قوانینو یوه برخه ده چی د هغی پر اساس ،متهم باید خپلی محاکمی ته حاضراو دخپل ځان پر ضد د شواهدونه خبر وی. "چی په حقیقیت کی د محکمی د تیرو خبرو تایید وو چی ویلی وو "د عادي قانون واکمني پر طبیعی عدالت ولاړه ده چی د هغی پر اساس، هیڅوک د هغو شواهدو پر بنسټ چی متهم یی د څیړلو آزادی ونه لری له مخکي نه قضاوت نه شي کولاي.[۲]

[۲] ۵۴۸ U.S(۲۰۰۶)۷۱-۷۲